# قُرباني

## یو مقصدي فریضه

30-June-2022



هفته وار ه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

30جون 2022ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کيدونکے بيان

# قُرباني يو مقصدي فريضه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: خپل مجلسونه په ما باندې په دُرود شريف لوستلو سره ښائسته کړئ، ستاسو په ما باندې دُرود شريف لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي.[1]

تيری اِک اِک ادا پر اے پيارے سَو درودیں فدا، ہزار سلام
وه سلامت رہا قيامت ميں پڑھ لئے جس نے دِل سے چار سلام[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

323

[1]…جامع صغير، صفحه:280، حديث:4580.

[2]…ذوقِ نعت، صفحه:171170.

## د بيان اوريدلو نيتونه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنّةَ يعني ښه نِيَّت بنده جَنَّت ته داخلوي.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د هر نيك او جائز كار نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونو كولو عادت جوړ كړئ چې هغه نِيَّت بنده جنَّت ته داخلوي. د بيان اوريدلو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه اوكړئ: مَثَلاً نِيَّت اوكړئ چې ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ د علمِ دِين زده كولو د پاره به پوره بيان اورم ❀ چې څومره كيدے شو د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به باآدبه كښينم ❀ د خپلے اصلاح د پاره به پوره بيان اورم ❀ څه چې واورم ٻخپله به پرې د عمل كولو او نورو د رَسَولو كوشش كووم ❀ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هم اوكړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د ذُوالْحِجَّةُ الْحَرَام مياشت د اسلامي كال آخرئ او د بركت نه ډكه مياشت ده، د حضرت ابو سعيد خُدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: سَيِّدُ الشُّهُورِ رَمَضَانُ، وَأَعْظَمُهَا حُرْمَةً ذُو الْحِجَّةِ يعني د



[1] ... مسند فِردَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔

www.dawateislami.net

مياشتو سرداره د روژې مياشت ده او د حرمت او عِزَّت په لحاظ سره د ټولو نه عظمت والا مياشت ذُوْالْحِجَّةُ الْحَرام ده.[1]

حضرت كعب الاحبار رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چا ته چې حَافِظُ الْكِتَابَيْن هم وئيلے شي، هغوئي د قرآنِ كريم هم عالم وو او د تورات شريف هم عالم وو. هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: الله پاک زمانے ته اختيار وركړو، بس د الله پاک په نزد د ټولو نه غوره زمانه د حرمت والا 4 مياشتې (يعني ذُوالقَعده، ذُوالحِج، مُحَرَّم او رجب) دي، په دې مياشتو كښې الله پاک ته د ټولو نه زياته محبوبه [يعني خوښه] مياشت ذُوْالْحِجَّةِ الْحَرام ده او په ذُوْالْحِجَّةِ الْحَرام كښې د دې ورومبئ 10 ورځې (كومو ته چې عشرۂ ذوالحج وئيلے شي، دا) د الله پاک په نزد ډيرې محبوبې ورځې دي.[2]

سُبْحٰنَ اللّٰه! اے عاشقانِ رسول! د عشرۂ ذي الحج ورومبئ لس ورځې ډيرې بركت والا دي، دا د الله پاک ډيرې خوښې ورځې دي، تر دې پورې چې الله پاک قرآنِ مجيد كښې د دې ورځو قسم ارشاد فرمائيلے دے، ارشاد كيبرِي: وَالْفَجْرِ (1) وَلَيَالٍ عَشْرٍ (2) (پاره:30،سورۂ فجر:1،2)

[مفهوم] ترجمۂ كنزُ الايمان: د هغه سحر قسم او د لسو شپو.

د يو قول مطابق په دې آيت كښې د ذِكر شوؤ 10 شپو نه د ذُو الحج



[1]...شعب الايمان، باب فى الصيام، جلد:3، صفحه:355، حديث:3755ملتقطاً.

[2]...شعب الايمان، باب فى الصيام، جلد:3، صفحه:350، حديث:3740.

www.dawateislami.net

وړومبۍ 10 شپې مراد دي.[1] پته اولګېده! چې د ذُو الحج وړومبۍ 10 شپې ډېرې فضیلت والا دي چې الله پاک د دې قسم خوړلے دے.

حج کا مہینا آیا، ماہِ حرام آیا　　طیبہ کی یاد لایا، ماہِ حرام آیا
آئی ہیں اس کی قسمیں، قرآں کی آیتوں میں　　رَب کو ہمارے بھایا، ماہِ حرام آیا

## عَشرَۂ ذِي الحج کښې د عبادت فضیلت

د خوږ آقا، مکي مدني نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ترۀ ځوئ، ډېر لوئ صحابي، د قرآنِ پاک مُفَسِّر، سلطانُ المُفَسِّرین حضرت عبدُ الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے، هغوئ فرمائي چې د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: مَا مِنْ اَیَّامٍ اَلْعَمَلُ الصَّالِحُ فِیهَا اَحَبُّ اِلَى اللّٰهِ مِنْ هٰذِهِ الْاَیَّامِ یوه ورځ داسې نشته کومه کښې چې نیک عمل کول د الله پاک په نزد، د دې 10 ورځو نه زیاته محبوبه وي.[2]

یعني که په عامو ورځو کښې نیکي اوکړے شي نو هغه هم د الله پاک ډېره خوښه وي، عامو ورځو کښې نیکي کول هم ډېره د فضیلت خبره ده خو د عامو ورځو په نسبت د عشرۀ ذي الحج (یعني د ذي الحج په وړومبو 10 ورځو کښې) نیکي کول الله پاک ته ډېر محبوب عمل دے.

یو روایت کښې دي: وَالْعَمَلُ فِیهِنَّ یُضَاعَفُ سَبْعَ مِائَةِ ضِعْفٍ په دې 10 ورځو



[1]…تفسیر قرطبی، سورۂ فجر، زیر آیت:2، جلد:30، صفحه:24.

[2]…ابو داؤد، کتاب الصوم، باب فی صوم العشر، صفحه:390، حدیث:2438.

www.dawateislami.net

کښې د نېکۍ ثواب 700 چنده زياتوالے شي.[1]

د ترمذي شريف په روايت کښې دي: نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مَا مِنْ أَيَّامٍ أَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ أَنْ يُّتَعَبَّدَ لَهُ فِيهَا مِنْ عَشْرِ ذِى الحِجَّةِ د عبادت په ورځو کښې الله پاک ته ډېرې محبوبې ورځې د عشرهٔ ذي الحج دي يَعْدِلُ صِيَامُ كُلِّ يَوْمٍ مِّنْهَا بِصِيَامِ سَنَةٍ په دې ورځو کښې يوه ورځ روژه د يو کال د روژو برابر ده وَ قِيَامُ كُلِّ لَيْلَةٍ مِّنْهَا بِقِيَامِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ او د دې ورځو د هرې شپې قيام (يعني ويخ پاتې کيدل او عبادت کول) د شبِ قدر د قيام برابر دے.[2]

ہر ہر گھڑی ہے اس کی عِزّ و فَضل میں یکتا　　بادَل کرم کا چھایا، ماہِ حرام آیا
بڑھتی ہیں اس میں قدریں، اعمال کی ہمارے　　کرنا نہ وقت ضائع، ماہِ حرام آیا

اے عاشقانِ رسول! غور اوکړئ! څومره ښکلې او د فضيلت ورځې دي، په دې ورځو کښې د يوې نېکۍ ثواب 700 چنده زياتوالے شي، دې ورځو کښې نيکي کول غوره نيکي ده، دې ورځو کښې د يوې ورځې روژه نيول د يو کال د روژو برابر ده، د دې ورځو په شپو کښې قيام کول (يعني د شپې ويخ پاتې کيدل او عبادت کول) شبِ قدر کښې د عبادت کولو برابر دے.

دلته دا هم ياد ساتئ چې دې ځائے کښې د نېکۍ هيڅ تخصيص (خاص



[1]…شعب الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحہ:356، حدیث:3757.

[2]…ترمذی، کتاب الصوم، باب ما جاء فی العمل، صفحہ:211، حدیث:758.

www.dawateislami.net

والے) نشته ۞ يعني په دې مبارکو ورځو کښې د هرې نيکۍ ثواب زياتيږي ۞ په دې ورځو کښې فرض لمُونځ ادا کول د عامو ورځو د فرض لمُونځونو نه زيات افضل ۞ دي ورځو کښې نفل عبادت د عامو ورځو د نفل عبادت نه افضل ۞ د دې ورځو نفلي روژې، د عامو ورځو د نفلي روژو نه غوره ۞ عشرهٔ ذي الحج کښې د نيکۍ دعوت ورکول عامو ورځو کښې د نيکۍ دعوت ورکولو نه افضل ۞ عشرهٔ ذي الحج کښې صدقه کول عامو ورځو کښې د صدقې کولو نه افضل ۞ عشرهٔ ذي الحج کښې ذِکرُ الله کول عامو ورځو کښې د ذِکرُ الله کولو نه افضل ۞ عشرهٔ ذي الحج کښې د مور پلار زيارت کول (يعني هغوئي ليدل) عامو ورځو کښې د مور پلار د زيارت کولو نه افضل ۞ عشرهٔ ذي الحج کښې تلاوت کول عامو ورځو کښې د تلاوت کولو نه افضل، الغرض چې هره يوه نيکي وي کومه چې په عشرهٔ ذي الحج کښې اوکړے شي نو د عامو ورځو په نسبت په دې کښې فضيلت هم زيات دے، الله پاک ته محبوب هم دے او د دې ثواب 700 چنده زياتوالے شي.

## د نيکو د سپرلي موسم

سُبۡحٰنَ الله! اے عاشقانِ رسول! دا 10 ورځې لکه چې د نيکو د سپرلي موسم دے، مونږ له پکار دي چې مونږه دا ورځې غنيمت اوګڼړو،

لمُونځونه اوکړو، نفل عبادت اوکړو، تلاوت اوکړو، ذِکرُ الله اوکړو بلکه حق خو دا دے چې د شپې ويخ پاتې شو او عبادت اوکړو چې د شپې عبادت محبوب دے. د حضرت سعيد بن جُبَير رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ معمول مبارک وو چې کله به عشرهٔ ذي الحج راغله نو هغوئي به په عبادت کښې ډير کوشش کولو او فرمائيل به ئې: لَا تُطۡفِئُوۡا سُرُجَكُمۡ لَيَالِی الۡعَشۡر يعني د عشرهٔ ذي الحج په شپو کښې خپلې ډيوې مه مړې کوئ.[1]

عام طور د شپې د اوده کيدو په وخت لائټونه مړه کولے شي، ځکه حضرت سعيد بن جبير رَضِیَ اللہ عَنۡهُ اوفرمائيل چې عشرهٔ ذي الحج کښې لائټونه مه مړه کوئ يعني په دې شپو کښې مه اوده کيږئ بلکه دې شپو کښې ويخ پاتې کيږئ او ډير عبادت اوکړئ!

## خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به نفلي روژې نيولې

اُمُّ الۡمُؤۡمِنِيۡن حضرت حفصه رَضِیَ اللہ عَنۡهَا فرمائي: رسولُ الله صَلَّی اللہ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به عشرهٔ ذي الحج کښې په پابندئ سره نفلي روژې نيولې.[2]

**ياد ساتئ!** د عَشَرَهٔ ذي الحج د روژو مطلب دے: د ذي الحج د وړومبو 9 ورځو روژې چې په 10 ذو الحج (د غټ اختر) د ورځې روژه نيول جائز نه ده.



[1]…حلية الاولياء، جلد:4، صفحه:311، رقم:5671.

[2]…صحيح ابن حبان، كتاب التاريخ، صفحه:1703، حديث:6422.

www.dawateislami.net

اے عاشقانِ رسول! کاش! چي مونږه هم د نيکو حرص کوونکي جوړ شو، زمونږه خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د عشرهٔ ذي الحج روژې نيولې، کاش! مونږه هم د رسولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې ادا خپلولو د پاره نفلي روژې اونيسو، لمُونځونه ادا کړو، عبادت اوکړو چي دغه ګټه په قبر و حشر کښې پکار راځي، باقي هر څه خو دلته پاتې کيدل دي، د دې نيکو حِرص زياتول پکار دے، د عشرهٔ ذي الحج يوه نيکي 700 چنده زياتولے شي، ځکه د دې موقعې نه فائده واخلئ او ښه ډيرې نيکئ اوکړئ. الله پاک دې مونږ ټولو ته د خپلې رضا والا کارونو کښې د مَصرُوفه کيدو توفيق رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

کچھ نیکیاں کمالے، جلد آخرت بنالے ‏ ‏ ‏ کوئی نہیں بھروسا اے بھائی! زندگی کا

## د ذُوالْحِجَّةِ الْحَرام يو اهم عبادت

## قرباني په چا واجب ده؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ذُوالْحِجَّةِ الْحَرام کښې کيدونکے يو ډير اهم عبادت قرباني ده. هر مسلمان نارينه او زنانه چي بالغ وي، مقيم وي (يعني مسافر نه وي) او دې سره سره د نصاب مالک هم وي (يعني د هغوئي سره دوه پنځوس [52] نيمې تولې سپين زر يا د دې برابر رقم وي) نو په هغوئي قرباني واجب ده.[1]



[1]…فتاوی عالمگیری، جلد:5، صفحه:292.

www.dawateislami.net

## د هر ويښته په سر نيکي

حضرت زيد بن ارقم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: يو ځل صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان په بارګاهِ رِسالت کښې عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا قربانيانې څه دي؟ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: سُنَّةُ اَبِيۡكُمۡ اِبۡرَاهِيۡم يعني ستاسو د والِد ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام سُنّت دي. صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان پوښتنه اوکړه: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دې کښې زمونږ د پاره څه دي؟ اوئې فرمائيل: بِكُلِّ شَعۡرَةٍ حَسَنَةٌ يعني د قربانۍ (د څاروي) د هر ويښته په بدل کښې ستاسو د پاره يوه نيکي ده.[1]

جو خُدا کے لئے قربانی کیا کرتے ہیں
دراَصل خلد کے حقدار ہُوا کرتے ہیں

## د غټ اختر په ورځ د ټولو نه افضل عمل

حضرت عبدُ الله بن عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غټ اختر په ورځ (يعني د ذُوالۡحِجَّةِ الۡحَرَام په 10 تاريخ) اوفرمائيل: مَا عَمِلَ آدَمِيٌّ فِیۡ هٰذَا الۡيَوۡمِ اَفۡضَلُ مِنۡ دَمٍ يُهۡرَاقُ يعني په نن ورځ د انسان د پاره يو عمل د وينې توئيولو (يعني د قربانۍ کولو) نه زيات فضيلت لرونکے نشته.[2] په يو حديث شريف کښې دي: يَوۡمُ النحر (يعني د غټ اختر په



[1]...ابن ماجه، کتاب الاضاحی، باب ثواب الاضحية، صفحه:510، حديث:3127.

[2]...مجمع الزوائد، کتاب الاضاحی، باب فضل الاضحية، جلد:4، صفحه:5، حديث:5939.

www.dawateislami.net

ورځ) د الله پاک په نزد د انسان د ټولو نه خوښ عمل وينه توئيول (يعني قرباني کول) دي، بيشکه د قربانۍ ځاروے به د قيامت په ورځ د خپلو ښکرو، خپلو ويښتو او خپلو ښپو سره راځي، بيشکه د قربانۍ وينه په زمکه ورروستو توئيږي، الله ئې وړومبے قبلوي، بس په خوشحالۍ سره قرباني کوئ.[1]

## د قربانۍ په ځائے صرف غوښه صدقه کول کافي نه ده

حَكِيمُ الأُمَّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديث شريف په شرح کښې فرمائي: دې نه معلومه شوه چې د قربانۍ مقصد وينه توئيول دي، که غوښه اوخوړلے شي او که نه، ځکه که چرې يو کَس د قربانۍ قيمت ادا کړي يا د دې نه دوه چنده يا درې چنده غوښه خيرات کړي، قرباني به چرې هم اونه شي او ولې به نه وي چې قرباني د خليلُ الله (عَلَيْهِ السَّلَام) نقل دے او حضرت ابراهيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام وينه توئي کړې وه، غوښه يا پيسې ئې نه وې خيرات کړې او نقل هغه صحيح وي کوم چې د اَصل مطابق وي.

مفتي صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: اعمال خو د کولو نه پس قبليږي خو قرباني د کولو نه مخکښې قبليږي، ځکه قرباني بيکاره ګڼړل يا په تنګ



[1] ...ترمذی، کتاب الاضاحی، باب ما جاء فی فضل الاضحية، صفحه:383، حديث:1493.

www.dawateislami.net

زړه سره مه کوئ! هر ځائے کښې د عقل نه کار مه اخلئ![1]

## قرباني به د دوزخ نه حجاب (رکاوټ) جوړ شي

رسولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مَنۡ ضَحّٰی طِيۡبَةً نَفۡسِهٖ مُحۡتَسِبًا لِاُضۡحِيَتِهٖ کَانَتۡ لَهٗ حِجَابًا مِّنَ النَّار يعني کوم بنده چې په خوشحالئ د ثواب په نيت قرباني اوکړي، دا قرباني به د هغه د پاره د دوزخ نه حجاب (رکاوټ) جوړ شي.[2]

## قرباني د ګناهونو کفاره ده

د يو حديث شريف خلاصه ده: د قربانئ د ځاروي د وينې د وړومبي ځاڅکي په بدله کښې الله پاک د قربانئ کوونکي تير شوي ګناهونه معاف کوي.[3]

اے عاشقانِ رسول! د غور خبره ده! ګناه څوک کوي؟ يقيناً انسان ئې کوي، ځاروے خو مُکَلَّف نه دے، دا خو ګناه نه کوي خو اوګورئ! د انسان د ګناهونو کفاره څوک جوړيږي؟ بے ګناه ځاروے....! که چرې په دې لحاظ سره اوکتل شي نو د ځاروو په مونږ خومره لوئ احسان دے چې



[1]...مرآة المناجيح، جلد:2، صفحه:375 ملتقطاً.

[2]...جامع صغير، صفحه:533، حديث:8825.

[3]...مستدرک، کتاب الاضاحی، جلد:5، صفحه:314، حديث:7600 خلاصةً.

www.dawateislami.net

ګناه مونږه کړې ده او دا بے ګناه څاروي د خپل ژوند په سر زمونږ د ګناهونو کفاره جوړيږي.

په دې کښې د هغه خلقو د پاره عبرت دے څوک چې د قربانۍ په وخت تماشه کوي، د څاروو د ساه وتلو ليدو سره، او په چغو اوريدو خوشحاليږي او مَعَاذَ الله! بعضې ناپوهه خو پړقې هم وهي. آه! دا تماشه د ليدو نه ده بلکه په خپلو ګناهونو د شرميدلو او د هغه څاروي د اِحسان منلو وخت دے.

دغه شان دې هغه ګسان هم عبرت واخلي څوک چې څاروي ته ناحقه تکليف ورکوي، خوراک نه ورکوي، په وړوکي ګاډي کښې غټ څاروے ورځائے کوي، ګاډي ته د څاروي خيژولو او کوزولو په وخت احتياط نه کوي، کله په تادۍ کښې څاروے د ګاډي نه په ټوپونو وهلو کوزوي چې ورسره د څاروي د ښپو د ماتيدو يا د زخمي کيدو انديښنه وي.

اے عاشقانِ رسول! مونږ له ويره پکار ده، عبرت اخستل پکار دے، دا څاروي خو هغه دي کوم چې د خپل رَبِّ کريم په نوم خپل ځان قربانوي، د خپل ژوند په سر زمونږ د ګناهونو کفاره ادا کوي، مونږ له پکار دي چې د دوئي احسان اومنو او د دوئي ښه عِزَّت اوکړو.

الله پاک دې مونږ ته هدايت نصيب کړي او د الله پاک د مخلوق سره

دې په ښه طريقه د سلوك كولو توفيق راكړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## قرباني، يوه مقصد لرونكې فريضه

اے عاشقانِ رسول! دا خبره ياد ساتئ! چې قرباني يو جشن يا رسم نه دے بلكه يو مقصد لرونكې فريضه ده. په قربانئ كښې زمونږ د پاره د زدكړې ډير څيزونه موجود دي ۞ قرباني مونږ ته د ژوندي پاتې كيدو مقصد ښائي ۞ قربانئ كښې د ايثار (يعني د قربانيدو) سبق دے ۞ قرباني مونږ ته د همدردئ سبق راكوي او ۞ د ټولو نه اهمه خبره دا ده چې مونږ ته د بندګئ آداب ښائي. راځئ! په دې تعلق سره د قرآنِ كريم يو آيت مباركه اورو او په هغې د ځان پوهه كولو كوشش كوؤ:

الله پاک په قرآنِ كريم كښې ارشاد فرمائي:

وَ لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ؕ فَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَلَهٗۤ اَسْلِمُوْا ؕ وَ بَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ ﴿۳۴﴾ (پاره:17،سورۂ حج:34)

[مفهوم] ترجمهٔ كنز الايمان: او د هر اُمَّت د پاره مونږه يوه قرباني مقرر كړه چې د الله نوم واخلي د هغه په وركړے شوؤ بے زبانه څاروو باندې نو ستاسو معبود يو معبود دے نو خپله غاړه د هغه په لور كيږدئ او اے محبوبه زيرے وركړه هغه خلقو ته چې عاجزه دي.

په تفسير صراطُ الجِنان کښې د دې آيت لاندې دي: يعني تيرو ايمانداره اُمتونو کښې د هر اُمَّت د پاره الله پاک يوه قرباني مقرر کړې وه چې دغه شان هغوئي د ځاروو حلالولو په وخت په هغې د الله پاک نوم واخلي.[1]

## قرباني شکرِ نعمت او د عقيدهٔ توحيد عملي اِظهار

د جهالت په زمانه کښې به خلقو د خپلو دروغژنو خدايانو [يعني بُتانو] د پاره قرباني کوله او د حلالولو په وخت به ئې هم د هغوئي نومونه اخستل، د مُشرِکانو د دغې شِرک ختمولو د پاره الله پاک اوفرمائيل:

لِّيَذۡكُرُوا اسۡمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمۡ مِّنۡۢ بَهِيۡمَةِ الۡاَنۡعَامِ ؕ فَاِلٰـهُكُمۡ اِلٰـهٌ وَّاحِدٌ فَلَهٗۤ اَسۡلِمُوۡا ؕ (پاره:17،سورهٔ حج:34)

**[مفهوم] ترجمهٔ کنز الايمان**: چې د الله نوم واخلي د هغه په ورکړے شوؤ بے زبانه ځاروو باندې نو ستاسو معبود يو معبود دے نو خپله غاړه د هغه په لور کيږدئ.

يعني صرف الله پاک ستاسو رازِق (يعني رِزق درکوونکے) دے، هم الله پاک دا ځاروي پيدا کړه، هم الله پاک دا طاقت لرونکي ځاروي ستاسو په قابو کښې راويستل او هم الله پاک د دې ځاروو د حلالولو او د غوښې په ذريعه د طاقت حاصِلولو تاسو ته اجازت درکړو، ستاسو صرف يو الله دے، ځکه د ځاروو حلالولو په وخت د هغه نوم اخلئ! د هغه شکر



[1] …تفسير صراط الجنان، پاره:17، سورهٔ حج، زيرِ آيت:34، جلد:6، صفحه:443.

www.dawateislami.net

ادا کړئ! او هغه ته سر ښکته کړئ!

اے عاشقانِ رسول! معلومه شوه، چې الله پاک د ښاروو په باره کښې په مونږه کوم انعامات اوکړه، ښاروي ئې پيدا کړه، دا ئې زمونږ په قابو کښې راويستل، د دې غوښه ئې زمونږ د پاره حلاله اوګرځوله، قرباني د دې انعاماتو شکر هم دے او د دې سره سره دې کښې اِظهارِ توحيد هم دے، يعني په ټوله دُنيا کښې مسلمانان د غټ اختر په موقع د ښاروو حلالولو په وخت د الله پاک نوم اخلي او دا اِظهار کوي چې الله پاک يو دے، په مونږه انعام کوونکے يو دے، د ټولو مخلوقاتو پيدا کوونکے يو دے او مونږه صرف د هغه يو الله پاک وحدهٗ لَاشَرِيْک عبادت کوو، د هغه نه علاوه بل څوک خپل خدائے نه ګڼړو.

معلومه شوه، چې قرباني څه رسم نه دے بلکه د نعمت شکر هم دے او د دې سره سره د عقيدهٔ توحيد عملي اِظهار هم دے.

## قرباني: د نيك طاقت ذريعه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! يو سوال په ذهن کښې راځي، هغه دا چې قرباني که چرې د نعمت شکر دے نو دا شکر په يو بل انداز کښې مثلاً، د لمُونځونو کولو، روژو نيولو، صدقې او خيرات کولو سره هم خو شکر ادا کيدے شي، آخر د دې د پاره د ښاروو قربانول ولې ضروري دي؟

عُلمائے کرامو د دې سوال ډېر جوابونه ارشاد فرمائيلي دي:

علامه ابن رجب حنبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې سلسله کښې ډېر ښکلي ايمان افروز مدني ګلونه بيان کړي دي، هغوئي فرمائي: ځناور د الله پاک ذکر ډېر کوي،الله پاک په قرآنِ مجيد کښې فرمائي:

وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ (پارہ:15،سورۂ بنی اسرائیل:44)

[مفهوم] ترجمۂ کَنزُ الایمان: او هيڅ داسې يو څيز نشته کوم چې د هغه د تعريف کولو سره د هغه پاکي بيان نه کړي.

د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمان مبارك خلاصه ده: ډېر داسې ځناور شته کوم چې د انسانانو نه بهتره او د دوئي نه زيات ذِکرُ الله کوونکي دي.[1]

د دې نه معلومه شوه! چې مجموعي طور ځناور د انسانانو په نسبت زيات د الله پاك ذِکر کوي، آؤ! انسانانو کښې هم داسې دي کوم چې ډېر زيات د الله پاک ذِکر کوي خو د انسانانو يو شمير داسې هم دے کوم چې د غفلت ښکار دي او ځناور عموماً د الله پاک ذکر کوونکي وي. ځکه مونږ ته الله پاک د څاروو د قربانۍ حکم اوکړو، دې کښې حکمت دا دے چې د غوښې خوړلو سره عقل زياتيږي، د وجود طاقت زياتيږي او د غوښې دا خوبي ده چې دا د انسان په طبيعت اثر کوي.

323

[1]...جامع صغير، صفحه:64، حديث:953خلاصةً.

چنانچه په مونږ باندې د حلال څاروو قرباني لازمه کړې شوه چې مونږه د ذِکرُ الله کوونکو څاروو غوښه اوخورو، د دې سره به زمونږه عقل زيات شي، کله چې د ذِکرُ الله کوونکو څاروو د غوښې په ذريعه عقل زيات شي نو هغه عقل به نيکئ طرف ته زيات راغبه شي، په هغې کښې به فُتور کم راځي، داسې عقل به ښه سوچ والا جوړ شي.

داسې به د ذِکرُ الله کوونکو څاروو غوښه زمونږ د بدن حصه جوړه شي، چې زمونږ د طبيعت حصه جوړه شي نو دې سره به غفلت ختم شي او انسان به زيات ذِکرُ الله کوونکے جوړ شي.[1]

علامه اِبن رَجَب حنبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې مدني ګل ذکر کولو نه پس فرمائي: کوم بنده چې د الله پاک اطاعت کوونکي، زيات ذِکرُ الله کوونکي، دا څاروي حلال کړي، بيا د دې غوښه اوخوري، بيا چې د دې د غوښې نه کوم طاقت حاصل کړي، دغه طاقت په ګناهونو کښې اولګوي نو ګنې ده چې لکه معامله التا کړه، د شکر په ځائے ئې ناشکري اوکړه، د داسې کم عقله انسان نه خو څاروے ډيرې درجې بهتر دے.[2]

اے عاشقانِ رسول! د عِبرت ځائے دے! دا څاروي چې د قربانئ په ورځ حلاليږي، د دې غوښه مالداران، غريبانان ټول خوري، حق دا



[1]...لطائف المعارف، مجلس الثالث: ايام التشريق، صفحه:390.

[2]...لطائف المعارف، مجلس الثالث: ايام التشريق، صفحه:390.

www.dawateislami.net

جوړيږي چې د دې غوښې خوړلو سره چې کوم طاقت حاصل شي ۞ د هغې نه زمونږ د ذِکرُ الله ذهن جوړ شي ۞ نيکئ طرف ته زړه راغب شي ۞ هغه طاقت په لمُونځ کښې اولګولے شي ۞ د قرآنِ پاک په تلاوت کښې اولګولے شي ۞ هغه طاقت د نيکئ دعوت ورکولو کښې اولګولے شي ۞ هغه طاقت په نيکو اعمالو کښې خرچ شي خو افسوس! دلته ګڼړ شمير خلق دي کوم چې د ګرانو ګرانو ځاروو قرباني کوي، غوښه هم خوري خو عبرت نه اخلي، د قربانئ په ورځ هم لمُونځونه قضا کوي، د فلمونو، ډرامو او د مختلفو ګناهونو په محفلونو کښې د اختر ورځ تيروي او د اختر ورځ په خپل حق کښې د وَعِيد ورځ جوړه کړي. داسې ناپوهه خلقو له ويريدل پکار دي، عَلّامه اِبنِ رَجَب حنبلي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د داسې ناپوهه خلقو نه خو هغه ځاروي غوره دي چې تر څو ژوندي وي، ذِکرُ الله کوي، آخر د الله پاک په نوم قربان شي.[1]

ہماری بگڑی ہوئی عادتیں نکل جائیں ملے گُناہوں کے امراض سے شفا یا رَب!
رہیں بھلائی کی راہوں میں گامزن ہر دَم کریں نہ رُخ مرے پاؤں گُناہ کا یا رَب!

## قرباني د بندګئ سبق دے

اے عاشقانِ رسول! د قربانئ اصل سبق خو دا دے چې انسان د الله پاک حقيقي بنده جوړ شي، اطاعت کوونکے جوړ شي، اوګورئ! الله پاک



[1]...لطائف المعارف، مجلس الثالث: ايام التشريق، صفحه:391.

وئيلي دي چې قرباني په هر اُمَّت لازم کړے شوې ده، بيا ئې اووئيل قرباني د نعمت شکر دے او دا به صرف د الله پاک د پاره کولے شي، بيا په آخره کښې الله پاک فرمائي: وَ بَشِّرِ الْمُخْبِتِیْنَ ﴿۳۴﴾ (پاره:17، سورۂ حج:34)

[مفهوم] ترجمۂ کَنزُالایمان: او اے محبوبه زيرے ورکړه هغه عاجزي کوونکو ته.

يعني اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! کوم چې مُخبِت (يعني عاجزئ کوونکي) دي، هغوئي ته د جَنَّت زيرے ورکړه!

مُخبِت (يعني عاجزئ کوونکي) څوک دي؟ د دې وضاحت کولو سره الله پاک فرمائي: الَّذِیْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَ الصّٰبِرِیْنَ عَلٰى مَاۤ اَصَابَهُمْ وَ الْمُقِیْمِی الصَّلٰوةِ ۙ وَ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ یُنْفِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ (پاره:17، سورۂ حج:35)

[مفهوم] ترجمۂ کَنزُالعرفان: هغه خلق دي چې کله د الله پاک ذِکر کيږي نو د هغوئي زړونه ويريږي او هغوئي ته چې کوم مصيبت اورسي په هغې صبر کوونکي دي او لمُونځونه کوونکي دي او زمونږ د ورکړے شوي رزق نه خرچ کوي.

يعني مُخبِت (د الله پاک د پاره عاجزئ کوونکي) هغه خلق دي کله چې د دوئي مخکښې د الله پاک ذِکر کيږي نو د هيبت او جلال په وجه د دوئي زړونه ويريږي، د الله پاک د عذاب ويره د دوئي د بدن د حِصّو نه ظاهريږي، دوئي ته چې دُنيا کښې کوم مصيبت اورسي، په هغې صبر کوي، لمُونځونه ادا کوي او د الله پاک په ورکړے شوي رِزق کښې صدقه او خيرات کوي.[1]



[1]…تفسير صراط الجنان، پاره:17، سورۂ حج، زيرِ آيت:35، جلد:6، صفحه:443.

www.dawateislami.net

اے عاشقانِ رسول! د غور مقام دے! مونږه قرباني خو کوو، د ګرانو ګرانو څاروو اخستلو سره په ډېر شوق قرباني کوو، کله چې څاروے راولو نو محله کښې دا خبره کيږي چې فلانکي دومره ګران څاروے راويستلو، خپلوانو ته، ګاؤنډيانو ته او دوستانو ته دا وئيلے شي خو غور اوکړئ! په مونږه کښې د جنّت د زيري حق دار جوړيدونکي يعني مُحِبِّت څومره دي؟ د الله پاک ذِکر کوونکي، د ذِکرُ الله اوريدلو سره خوشحاليدونکي، د الله پاک د ويرې نه رپيدونکي، لمُونځونه کوونکي، د الله پاک په لاره کښې د زړه په اخلاص صدقه او خيرات کوونکي څومره دي؟

آه! افسوس! مونږه قرباني خو کوو، دا هم ډير ښه کار دے، نيک کار دے، په چا چې قرباني واجب ده، هغوئي ته خو به ئې کوي، د دې نه بغير ئې خلاصے نشته خو د قربانۍ اصلي مقصد څه دے؟ قرباني مونږ ته څه سبق راکوي؟ دا مقصد به مونږه کله پوره کوو؟

## سُنتِ ابراهيمي ادا کړئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! قرباني سُنّتِ ابراهيمي ده، په دې چې مونږه غور اوکړو، د حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام مبارک انداز څه دے؟ د هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام سيرتِ پاک مونږ ته څه راښائي؟

د حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام عمر مبارک 7 کاله وو، الله پاک هغوئي عَلَيۡهِ

السَّلَام ته اوفرمائيل: اَسْلِمْ (پاره:1،البقره:131) ترجمۂ کَنزُالعِرفان: فرمانبرداري اوکړه.

حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په 7 کاله عمر مبارک کښې عرض اوکړو:

قَالَ اَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ (پاره:1،سورۂ بقره:131)

[مفهوم] ترجمۂ کَنزُ العِرفان: نو هغوئي عرض اوکړو: ما فرمانبرداري اوکړه د هغه کوم چې د ټولو جهانونو پالونکے دے.

اوس اوګورئ! حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د 7 کالو په عمر کښې د رَبِّ کريم په دربار کښې دا عرض اوکړو، بيا ټول عمر په هغې قائم پاتې شو، په هغوئي مصيبتونه هم راغلل، پريشانئ هم راغلې، غمونه هم راغله، هغوئي ته تکليفونه هم اورسولے شو خو د يو ساعت د پاره هم د هغوئي ښپې اونه خوئيدې، هغوئي تل ثابت قدم پاتې شو، هغوئي ته د نيکئ دعوت عام کولو حکم اوشو، هغوئي بالکل يواځې د دين پيغام عام کولو کښې مصروفه شو، نمرود د وخت ډير ظالم بادشاه وو، د هغه په دار الحکومت کښې د پاتې کيدو سره، بغير د ويرې، صرف د الله پاک په تَوَکُّل هغوئي کلمۂ حق اوچته کړه.

نمرود معاذَ الله! حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام اور ته د غورزولو جراءَت اوکړو، په دې هم حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام مطمئين پاتې شو، د الله پاک فرمانبرداره پاتې شو، کله چې هغوئي اور ته غورزولے کيدل، حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام حاضر شو، عرض ئې اوکړو: اے ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ! که

څه حاجت وي نو اوفرمائي! اوئې فرمائيل: حاجت خو دے خو ستا نه نه، عرض ئې اوکړو: بيا د چا نه حاجت دے، هغه ته اووائې! اوئې فرمائيل: هغه مې ويني، د وئيلو ضرورت نشته.

سُبْحٰنَ الله! دا يقين وو، تَوَكُّل وو، بيا الله پاک هغوئي ته د دې يقين او فرمانبردارئ صِله هم عطا کړه، په ميلونو خور هغه وحشت ناک اور الله پاک د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د پاره د ګلونو په باغ کښې بدل کړو.

بيا حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته د هجرت حکم اوشو، هغوئي خپل کور، خپل خپلوان، ټول پريښودل او شام مُلک ته ئې هجرت اوکړو.

حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام چې کله د ضعيفئ عمر ته اورسيدلو، نو هغوئي دُعا اوکړه: رَبِّ هَبْ لِیْ مِنَ الصّٰلِحِیْنَ (پاره:23،سورۂ صٰٓفّٰت:100)

[مفهوم]ترجمۂ کَنْزُالعِرْفان: اے زما رَبه! ما له نيک اولاد راکړه.

په دغه عمر کښې الله پاک هغوئي ته د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په شکل کښې نيک ځوئ ورکړو، لا حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د پئيو ځښلو عمر وو، حکم اوشو: اے ابراهيمه! خپل ځوئي او د هغه مور په مکه مکرمه کښې پريږده!

اَللّٰهُ اکبر! د ضعيفئ په عمر کښې ورته ځوئ عطا کړے شو، اوس د پئيو ځښلو په عمر کښې دے او ځوئ د خپل ځان نه د جدا کولو حکم

راغے، قربان شم! دا جذبۀ اطاعت ده، دا د ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام د خپل رَبّ سره کمال محبت دے چې د دې حکم اوریدو سره هم هغوئي تندے کوَت نه کړو، په ژبه څه کِله راتلل خو لويه خبره ده، په زړه کښې ئې هم څه خيال تير نه شو، حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام د خپل رَبِّ کريم حکم په سر سترګو اومنلو او خپل د پئيو ماشوم ځوئ او د هغه مور ئې بالکل يواځې د مکې مکرمې په بے آباده علاقه کښې پريښودل او واپس ئې تشريف يوړلو.

الله! الله! ...

## ابھی عشق کے امتحاں اور بھی ہیں

چې کله د حضرت اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلَام عمر مبارک تقريباً 13 کاله شو، حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام خوب اوليدلو چې خپل ځوئ حلالوي، د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام خوبونه هم وَحي وي، ځکه حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام د خوب په ذريعه په ورکړے شوي د الله پاک په دې حکم د عمل کولو د پاره مکې مکرمې ته اورسيدلو، حضرت اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلَام ته ئې خوب اووئيلو، فرمانبرداره ځوئ عرض اوکړو:

قَالَ يٰۤاَبَتِ افۡعَلۡ مَا تُؤۡمَرُ ۫ سَتَجِدُنِیۡۤ اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ مِنَ الصّٰبِرِیۡنَ ﴿۱۰۲﴾

(پارہ:23،سورۂ صٰفّٰت:102)

[مفهوم] ترجمۂ کَنزُالعِرفان: ځوئ اووئيل: اے زما پلاره! تاسو هغه اوکړئ د کومې چې تاسو ته حکم شوے دے. اِنۡ شَآءَ الله نزدې ده چې تاسو به ما صبر والا اومومئ.

سُبْحٰنَ اللّٰه! څوئ دې وي نو داسې...! فرمانبرداري وي نو داسې دې وي...!!

یہ فیضانِ نظر تھا یا مکتب کی کرامت تھی سکھائے کس نے اسماعیل کو آدابِ فرزندی؟

اَللّٰهُ اکبر! اوس حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام خپل شهزاده د خپل ځان سره کړو، منٰی ته ئې تشريف يوړلو، څوئ ئې څملولو، په مرئ ئې ورله چاړه کيښوده، رواياتو کښې راغلي دي: چاړه ډيره تيره وه خو چې د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په مرئ به ئې راښکله نو نه به راښکلے کيده.

د الله پاک حکم پوره کولو کښې په غير اختياري طور ناوخته کيدلو، د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام فرمانبرداره زړه دا ناوخته کيدل نه شو قبلولے، هغوئي چاړه تيره کړه، بيا ئې راښکله، بيا ئې تيره کړه، را ئې ښکله، بيا هم را نه ښکلے شوه، درې ځله هم داسې اوشو. حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د فرمانبردارئ په جوش کښې بيا بيا د چړې راښکلو کوشش کولو، هغه وخت حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام جنّتي ګډ راويستلو او حاضر شولو او حضرت ابراهيم او اسماعيل عَلَيْهِمَا السَّلام ته ئې د قربانئ قبليدو زيرے ورکړو.

یہ سب آسان سے بھی آسان تر ہے، جانِ من لیکن بہت مشکل ہے اپنے ہاتھ سے بیٹے کی قربانی
کیا بیٹے کو قرباں راہِ حق میں اپنے ہاتھوں سے نہیں دُنیا میں کوئی بھی خلیل اللّٰہ کا ثانی

اے عاشقانِ رسول! دا ده جذبۀ اطاعت، جذبۀ جانثاري، جذبۀ وفاداري،

ځنګه چې څاروي حلالول سُنّتِ ابراهيمي دي، داسې دا جذبۀ اطاعت او فرمانبرداري، خپل ځان الله پاک ته مکمل طور سپارل، دا هم د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام مبارکه طريقه ده. يقيناً حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک نبـي دے، مونږه د هغه برابر نشو کيدے خو چې ځنګه د څاروو قرباني کوو او د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سُنّت ادا کوو، داسې ځان الله پاک ته د سپارلو سره، ځان مکمل طور د الله پاک په اطاعت کښې مشغولو هم کوشش کول پکار دے.

## د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سره به نسبت کله صحيح وي؟

غَوثِ اعظم شيخ عبدُ القادرِ جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مؤمن بنده لِمَ (يعني ولې)؟ او كَيفَ (يعني ځنګه)؟ نه پيژني (يعني مؤمن بنده دا نه ګوري چې حکم ولې راکړے شو، ځنګه راکړے شو بلکه يو مسلمان صِرف دا ګوري چې حکم چا راکړو؟ الله پاک حکم راکړے دے، د هغه محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکم راکړے دے نو بس اوس بنده دا پوره کوي، په دې اعتراض نه کوي بلکه که د سر بيلل پکښې ولې نه وي، هغوئي د الله و رسول په حکم باندې عمل کوي)

غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: نفسِ اَمّاره د شَر نه ډک دے، که چرې انسان مجاهَده اوکړي (يعني په ځان سخته تيره کړي، په هر حال کښې د الله او د رسول په حکم عمل اوکړي نو په قلاره قلاره) نفسِ اَمَّاره نَفسِ مُطمَئِنَّه

جوړ شي، کله چې نفسِ اَمّاره نفسِ مُطمَئِنَّه جوړ شي، اوس دا صورت وي چې انسان اطاعت کوي، د ګناهونو نه بچ کيږي، دې درجې ته رسيدو سره نفسِ انساني صرف خير او خير وي، هغه وخت انسان د نفساني خواهشاتو نه بچ کيږي، پوره طور په الله پاک يقين ساتي او دا هغه درجه ده چې د انسان د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سره نسبت صحيح شي (يعني دې درجې ته د رسيدو سره دا وئيل کيدے شي چې دا بنده په سُنَّتِ ابراهيمي باندې عمل کولو والا دے)، دغه وخت الله پاک د بنده بے حسابه امداد کوي او په آخرت کښې ورته بے حسابه نعمتونه ورکوي.[1]

اے عاشقانِ رسول! دا دے د قربانۍ اصل سبق، چې مونږه د الله پاک کامِل اطاعت اوکړو، څه؟ ولې؟ څنګه؟ ته اونه ګورو، د عقل نه کار وا نخلو بلکه چې د الله و رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکم راشي نو بس سترګې پټې کړو او په هغې عمل اوکړو، د نفساني خواهشاتو نه بچ شو، د نفسِ اَمّاره د پليتۍ نه بچ شو، د ځان اصلاح اوکړو تر دې پورې چې نفسِ مُطمَئِنَّه حاصلولو کښې کامياب شو.

محيط دِل په ہوا ہائے نفسِ امّارہ　　دِماغ پر مرے ابلیس چھا گیا یا رَبّ!
رہائی مجھ کو ملے کاش! نفس و شیطاں سے　　ترے حبیب کا دیتا ہوں واسطہ یا رَبّ!



[1] ...الفتح الربانی والفیض الرحمانی، المجلس الاول، صفحه:14.

## د نفس د خواهشاتو نه بچ شئ!

حديثِ پاک کښې دي: لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يَكُوْنَ هَوَاهُ تَبِعًا لِمَا جِئْتُ بِهٖ تاسو کښې يو بنده هم تر هغه وخته پورې (کامِل) مؤمن نشي کيدے، تر څو پورې چې د هغه خواهشات زما د راوړے شوي (دين) تابع نه شي.[1] عُلَمائے کرام د دې حديث شريف په شرح کښې فرمائي: په بنده باندې لازم دي چې د الله و رسول صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره داسې محبت اوکړي چې هغه محبت هغه د الله پاک او د هغه د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبردارئ ته راپار کړي او د ګناهونو په لاره کښې رکاوټ جوړ شي.[2]

الله پاک دې مونږ له توفيق راکړي، چې مونږه د خاروو قرباني اوکړو، ضرور ئې اوکړو، دې سره سره د نفسِ اَمَّاره قرباني هم ورکړو، د نفساني خواهشاتو قرباني هم ورکړو، د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په برکت، د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په برکت کاش! مونږه د الله پاک حقيقي فرمانبرداره بندګان جوړ شو. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشقانِ رسول! په 4 ذوالحج د شيخِ طريقت، امير اهلِسنّت د پير



[1]... السنة لابن ابي عاصم، صفحه: 12، حديث: 15.

[2]... جامع العلوم والحكم، صفحه: 397.

صاحب سيّدي قطبِ مدينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عرسِ پاک دے. راځئ! د برکت حاصلولو د پاره د هغوئي ذِکرِ خير اورو:

## د سيِّدي قُطبِ مدينه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ذِکرِ خير

د خليفۀ اعلٰی حضرت مولانا ضياءُ الدِّين احمد صديقي قادري مَدَني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ولادتِ باسعادت په 1294ھ، 1877ء کښې د سيالکوټ (پنجاب، پاکستان) په يوه غير معروفه علاقه کلاس والا کښې اوشو، هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د مسلمانانو د وړومبي خليفه حضرت صدِّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په اولاد کښې دي. وړومبے تعليم ئې په سيالکوټ کښې حاصل کړو. بيا ئې مرکز الاولياء لاهور او 22 خواجه په دُرشل دهلي کښې څه موده علم حاصل کړو، بيا ئې په آخِر کښې پيلي بهيت (اُتر پرديش، هند) کښې د حضرت علامه مولانا وصي احمد محدِّثِ سُورتي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خدمت کښې تقريباً 4 کاله تير کړه او ديني علوم ئې حاصل کړه او د دورۀ حديث نه پس ئې سندِ فراغت حاصل کړو.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د اعلٰی حضرت، امامِ اهلِسنّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دستِ کرامت نه د سيّدي قطبِ مدينه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه دستار بندي اوشوه. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اعلٰی حضرت، امامِ اهلِسنّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه بَيعَت هم اوکړو او صرف د 18 کالو په عمر کښې ئې د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه سندِ

خِلافت هم حاصل کړو.[1]

کلی ہیں گلستانِ غوث الوَرٰی کی　　　یہ باغِ رضا کے گُلِ خوشنما ہیں

## د مصطفٰی د ښار سره عشق

سیّدي قطبِ مدینه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په 1327ھ کښې د بغداد مُعَلّٰـی نه مدینے منورې ته حاضر شولو او تقریباً 75 کاله هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته هم هغلته د قیام کولو شرف نصیب شو.[2] په آخري عمر کښې ئې نظر کمزورے شوے وو، ډاکټرانو ورته د علاج د پاره جدې ته د تللو بیا بیا اووئیل نو هغوئي اوفرمائیل: **فقیر د سترګو د پاره مدینه مُنَوَّرَه نشي پرېښودے.**[3]

## د 7 ورځو لوږه

سیِّدي قطبِ مدینه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کله چې زه مدینے مُنَوَّرې ته حاضر شوم نو په وړومبو ورځو کښې داسې وخت هم راغے چې ما ووه ورځې په نهره تیرې کړې. په وومه ورځ چې د لوږې د لاسه بے حاله شوم نو زما خوا له یو ډیر هیبت ناک بُزُرګ تشریف راوړو او هغوئي ما له 3 مشکونه راکړه. په یو کښې شهد [ګبین]، په دویم کښې وړه او په دریم کښې غوړي وو. مشکونه ئې راکړه او دې وئیلو سره ئې تشریف یوړلو



[1]…سیدی قطب مدینه، صفحه:7.

[2]…انوارِ قطب مدینه، صفحه:337خلاصةً.

[3]…سیدی ضیاء الدین احمد القادری، جلد:1، صفحه:523.

www.dawateislami.net

چې زه اوس د بازار نه نور ځيزونه راوړم.

لږ وخت پس ئې د چائے ډبه او چيني وغيره راوړه او ما له ئې راکړه او بيا سمدستي بيرته لاړو. زه ورپسے شوم چې د هغوئي نه تفصيل معلوم کړم خو هغوئي غيب شول. ستاسو په خيال هغه څوک وو؟ هغوئي اوفرمائيل: زما په خيال هغوئي د مديني د سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترۀ سَيِّدُ الشُّهَدا حضرت حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو ځکه چې د مديني مُنَوَّرې وِلايت هغوئي ته سپارلے شوے دے.[1]

اے عاشقانِ رسول! حضرت سيِّدي قطبِ مدينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د حضرت حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره ډير عقيدت ساتلو او هغوئي به هر کال په 17 رَمَضانُ المُبَارَک د حضرت حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عُرس شريف مناوهلو او يوه روژه به ئې د حضرت حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مزار ماتوله.[2]

## وصال شريف او جنازه مبارکه

په 4 ذُوالْحِجَّةِ الحرام 1401ھ (2-10-81) د جمعے په ورځ د مسجدِ نَّبوي شريف مُؤَذِّن اَللّٰهُ اَکبر اَللّٰهُ اَکبر اووئيل او سيِّدي قُطبِ مدينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کلمه شريفه اولوستله او هغوئي د دې فاني دُنيا نه سفر اوکړو. اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ



[1]…سيدی قطب مدينه، صفحه:8.

[2]…سيدی قطب مدينه، صفحه:8.

اِلَيۡهِ رٰجِعُوۡنَ ؕ د غسل نه پس کفن اوغوړولے شو او د سر د لاندې ئې د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حُجرې شريفې خاوره مبارکه کيښودے شوه، د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قبر مبارک غُساله شريف او مختلف تبرکات واچولے شو. بيا کفن شريف اوتړلے شو. د مازيګر د لمَانځهٔ نه پس د دُرُود و سلام او قصيدهٔ بُرده شريف په آوازونو کښې جنازهٔ مبارکه اوچته کړے شوه.

د سيّدي قُطبِ مدينه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ د آرزو مطابق د جنَّتُ البقيع په هغه حصه کښې چرته چې اهلبيت عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوان آرام کوي، هلته صرف د حضرت فاطمةُ الزَّهرا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا د مزار نه صرف 2 ګزه لرې خاورو ته اوسپارلے شو.[1]

الله پاک دې د سيّدي قُطبِ مدينه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ په برکت مونږه بے حسابه اوبخښي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: نيک اعمال

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د ګناهونو پريښودو، نيکو کولو او د قبر و آخرت د تيارئ ذهن جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته شئ او د ذيلي حلقے 12 ديني کارونو کښې ښه ډيره حِصّه واخلئ!



[1] ...سیدی قطب مدینہ، صفحہ:9.

www.dawateislami.net

اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! د دې په برکت به د ګناهونو پرېښودو، د نيکو کولو او د قبر و آخرت د تيارئ ذهن جوړ شي. د ذيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **نیک اعمال** هم دي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شيخِ طريقت، امير اهلِسنت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د خپلو مريدانو، طالبِينو او عقيدت مندو بلکه د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول ته د خپلې اِصلاح بهترينه نُسخه رسالۀ **نیک اَعمَال** ورکړې ده. دا وړه شان رِساله د مَکتبةُ المدينه نه هديةً واخلئ او که اوغواړئ نو د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ (www.dawateislami.net) نه ئې ډاؤنډ لوډ کړئ بلکه که نوره آساني غواړئ نو خپل موبائل کښې نیک اعمال ***Naik Amaal*** ايپلي کيشن ډاؤنډ لوډ کړئ، دا اولولئ، د دې مطابق ژوند تير کړئ او هره ورځ د خپلو اعمالو جائزه اخلئ. اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيکو کولو ذهن به جوړ شي، د زړه پاك والے به ميلاؤ شي او کردار به ښه ښائسته پرقيدونکے پرقيدونکے جوړ شي.

## ټوله کورنئ په نيغه لاره روانه شوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور بيان دے، ما د ګناهونو نه ډک ژوند تيرولو، فلمونه کتل، لوفري کول، لمُونځونه قضا کول

وغيره زما په معمولاتو کښې شامل وو، يو ځل زمونږه علاقے ته د عاشقانِ رسول مدني قافله راغله، په هغوئي کښې يو اِسلامي ورور ما ته د ماښام لمُونځ کولو او بيان کښې د شرکت کولو دعوت راکړه، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئي سره جُمات ته لاړم، د ماښام لمُونځ نه پس چې مې بيان واوريدو نو ډير خوند ئې راکړو، د بيان په آخره کښې مبلغ د **نيک اَعمَالو** رسالے تعارف اوکړو، رِسالۀ **نيک اَعمَال** کښې درج د نيکو ډک ژوند تيرولو مدني ګل ليدو سره زه ډير خوشحاله شوم، د دې رسالے په شکل کښې ما د شيخِ طريقت اميرِ اهلِسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د اُمَّت د اِصلاح زړه سواني ليدلو سره د بيعت د پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د ولئ کامِل سره د نسبت سره زما زړه د ګناهونو نه بيزاره شو او نيکو طرف ته مائل شو، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې شامل شوم، د دې په برکت زما اخلاق سميدل شروع شو، زما د دې بدليدو سره زما د کور په خلقو هم ښه اثر اوشو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په قلاره قلاره زمونږه ټوله کورنۍ قادري، رضوي، عطّاري شوه، په کور کښې د لمُونځونو پابندي شروع شوه، فلمونه، ډرامې، سندرې باجې بندې شوې او د ګناهونو نه د ډکو چينلو په ځائے مدني چينل اولګيدو.[1]



[1] …دلوں کا چین، صفحه: 4.

www.dawateislami.net

خوب مدنی قافلوں کی دھوم ہو　　　نیک ہو امّت اے نانائے حسین
"مدنی اِنعامات" کی ہو ریل پیل　　　نیک ہو امّت اے نانائے حسین[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب بيانولو سعادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي." [2]

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا　　　جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا
سِينه مي دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې مي خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## د رانجو لګولو سنتونه او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: په ټولو رانجو کښې بهترين رانجه اِثمَد دي چې دا د سترګو نظر تيزوي او بانړه زرغونوي.[3]



[1]...وسائِلِ بخشش، صفحه:258.
[2]...مشکوٰة، کتابُ:الْاِيمان، بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔
[3]...ابن ماجه، کتاب:الطب، باب:الكحل بالاثمد، صفحه:566، حديث:3497.

www.dawateislami.net

اے عاشقانِ رسول! د کانړي رانجو استعمالولو کښې څه باک نشته او تور رانجه يا کَاجَل بقصدِ زينت (يعني د ښکلا په نيت) د نارينؤ د پاره لګول مکروه دي او که چرې د ښکلا مقصد نه وي نو کراهت [يعني مکروه والے] پکښې نشته، رانجه د شپې په وخت په سترګو کښې اچول سُنَّت دي ❁ د رانجو لګولو د دريو نقل شوؤ طريقو خلاصه وړاندې کوؤ: (1) کله په دواړو سترګو کښې 3، 3 سلاياني (2) کله په ښئ سترګه کښې 3 سلاياني او په ګڅه سترګه کښې 2 (3) نو کله په دواړو سترګو کښې 2، 2 او بيا په آخره کښې يوه سلائي راډکه کړئ او په دواړو سترګو کښې ئې نمبر په نمبر واچوئ او داسې کولو سره بهاِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! په دريو واړو طريقو عمل اوشي.

اے عاشقانِ رسول! د تکريم چې خومره هم طريقې دي ټولې به زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښي طرف نه شروع کولې، ځکه اول په ښئ سترګه کښې رانجه واچوئ او بيا په ګڅه کښې.[1]

عجب نہیں کہ لکھا لوح کا نظر آئے! جو نقشِ پا کا لگاؤں غبار آنکھوں میں

مختلف سُنَّتونه او آداب زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه "بهارِشريعت" جلد3 حصّه 16 او د شيخِ طريقت، اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه 91 صفحو رساله 550 سُنَّتيں اور آداب هديةً واخلئ او



[1]...550سنتيں اور آداب، صفحه:38.

www.dawateislami.net

اولولئ ئي. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو    سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو

ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو    ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

الله پاك دې مونږ ته د عمل کولو توفيق را کړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبَر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبُر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1]

راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ

صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود



1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2...القول البدیع، الباب الثانی، ص٢٧٧

شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږ ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولَولي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

323

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

3...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۳۲۹/۲، حديث: ۳۰

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث: ۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث: ۴۴۱۵

www.dawateislami.net